مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سرلوڅ مرادزی
۲۰۲۳ / ۰۲ / ۱۳

# راتلونکې زلزلې ته!

د غریبانو د خټو او لرګیو جوړ کورونه مه ورانوه.
دا کورونه د لسګونو کلونو په زیار جوړ شوی او یوازې د سرپنا حیثیت لري.
له تا(زلزلې) پرته هم کله ناکله د ښاروالانو لخوا د بې نقشې کورونو په نوم چپه کیږي او د خاوندانو کډې یې تل پر اوږو بار وي!
دې کورونو کې هسې چې ملایان وایی زنا، شرابخوري او قمار نه کیږي.
شربخواره، زناکار او قماربازان په بنګلو او دنګو ماڼیو کې اوسي چې مستحکمې جوړې دي او د هرې زلزلې زور پرې نه رسي.
ملایان تا ته د خدای قهر وایي، خو ستا زور زیات په بېوزلانو او کړېدلو انسانانو رسیږي او د قهر وړ کسان ډیری، ستا له قهره خوندي پاتې کیږي!
هیله ده راتلونکو فرصتونو کې، د غټانو او د دوی د جارچي ملایانو پټې هم په نښه کړې چې دوی هم د خدای په قهر کې سهیم شي!
که زلزله د ملا په قول د خداي قهر وي، لومړني مستحقین یې غټان او د دوی ملګري ملایان دي!
پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ